مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهولي ارين
۲۰۲۶/۰۶/۱۵

# رنګ يې ورک شه

چي نامرد وي که دي ياروي، رنګ يې ورک شه
که دي هرخومره د کار وي، رنګ يې ورک شه

صداقت ريښتينولي چې په کې نه وي
په ظاهر که ستا دلدار وي، رنګ يې ورک شه

په نيرنګ به قدرمن درته خطاب کړي
په باطن کې به اغيار وي، رنګ يې ورک شه

دی کسانو سره چارې په کار نه دي
د لستوني به دې ماروي، رنګ يې ورک شه

داسي خلک د اعتبار او حساب نه دي، ارينه
يارانه کې چي غدار وي، رنګ يې ورک شه

د جون دويمه کال ۲۰۲۶


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ